## دولت کومې دندې لري:

د دولت دندو د وخت په تېرېدو سره اوله یو ځایه تر بل ځایه توپیر موندلی دی. د اوسنیو دولتونو ځینې مهمې دندې په لاندې ډول دي:

- په ټولنه کې د مختلفو موسسو تر منځه د همغږۍ د راوستلو لپاره د قوانینو او مقرراتو وضع کول.
- د قانون پر وړاندې د ټولنې د ټولو خلکو د برابرۍ په پام کې نیولو او د قوانینو اجرا کول.
- له کورنیو او بهرنیو تېري کوونکو څخه د هېوادوالو د حقوقو ساتنه.
- د سرحدونو څارنه او ساتنه او د بهرنیو دښمنانو د تېري مخنیوی.
- د هېوادوالو لپاره د ښوونې، روغتیا او هوساینې د خدمتونو سرته رسول.

### د لوست تکرار:

- دولت د مؤسساتو، کورنیو، خلکو او ټولنې تر منځ د اړیکو د نظم او همغږۍ لپاره جوړېږي.
- دولتونه په ټولنه کې مختلفې دندې لري چې د قانون جوړول او پلي کول او د قانون ماتولو مخنیوی د هغه له مهمو دندو څخه شمېرل کېږي.
- دولتونه مختلف ډولونه لري لکه ولس واکي او زورواکي.

### پوښتنې:

۱. ولې دولت ته اړتیا لرو؟
۲ . د دولت اړیکې د ټولنې له نورو اجزاو سره وښایاست.
۳ ..د دولت د ډولونو نوم واخلئ.

### فعالیت:

د دولت ډولونه چې په لوست کې مو ولوستل، یو له بل سره پرتله او بیان یې کړئ.

۱. تاسې کوم ډول دولت غواړئ؟
۲ .زموږ دولت څه ډول دولت دی؟ ولې؟ پایله یې په ټولګي کې خپلو دوستانو ته ووایاست.

دموکراسي يوه يوناني کلمه ده چې نن ورځ په ټولو ژبو کې ترې استفاده کېږي. دا کلمه د خلکو د حکومت په معنا ده، چې په پښتو ژبه کې ورته ولسواکي وايي.

ولسواکي په دې معنا ده چې حکومت د خلکو حق دی او همدا خلک دي چې باید د خپل هېواد د مسألو په هکله تصمیم ونیسي.

د زورواکۍ خوا ته د دولتونو د مخې کولو په پایله کې په پېړیو پېړیو ولسواکي د خلکو له فکر او خیال نه هېره شوه. په وروستیو پېړیو کې نړۍ د هغو پرمختیاوو چې د بشر د حقوقو په برخه کې یې درلودلې، د دې لامل وگرځېدل چې د دولتونو او خلکو پام د ولسواکۍ اصولو ته واړوي. ولسواکۍ ته د خلکو مخه کولو د شلمې پېړۍ په سر کې په بیړه پرمختگ وکړ او د دې لامل وگرځېدل چې زیاتره دولتونه ولسواکي ومني او په خپل دولت کې یې په کار واچوي.

نن ورځ ټولو دولتونو ولسواکي د یوې مناسبې تگلارې په توگه د خپل حکومت په اداره کې منلې ده. په نړۍ کې ډېر لږ دولتونه پیدا کېږي چې خپل ځان ولسواک نه بولي.



# ولسواکي په افغانستان کې



## خبرې پرې وکړئ:

په تېرو لوستونو کې مو د ولسواکۍ اصول او په ولسواکو دولتونو کې د خلکو ونډې ولوستلې.

د تېر درس د مطالبو په نظر کې نیولو سره، لاندینیو پوښتنو ته ځواب ووایاست.

ستاسې په نظر ولې د افغانستان دولت ته ولسواک دولت ویلای شو؟ په دې هکله خپل معلومات ښرگند کړئ.

نن ورځ ولسواکي په نړۍ کې د حکومت کولو په اړه د بشر د یوې تجربې په توگه پېژندل کېږي. ولسواک حکومتونه د بشر په تاریخ کې زیات عمر نه لري. او د دې ډول حکومتونو مخینه په افغانستان کې ډېره لږه ده. زموږ په هېواد کې د خپلواکۍ او ولسواکۍ د لاس ته راوړلو لپاره، مبارزینو او خپلواکۍ غوښتونکو په کلونو کلونو مبارزه وکړه او په دې لاره کې یې ډېر درانده زیانونه وزغمل چې په پایله کې یې د خپلواکۍ غوښتونکو د هڅو او ټولنیزو فشارونو له امله د ولسواکۍ ځینې ارزښتونه په اساسي قانون کې درج شول او پارلمان چې د

